# د افغانستان د بڼوالۍ د پرمختیا ملي موسسه

د بڼوالۍ د خصوصي سکتور د پرمختګ حمایه کول

# د زردالو د انواعو د خپل ځان د القاح څېړنه



**پـتـه**: انډو، د زراعـتي کـوپراتیفـونو تعـمیر، بادام باغ، کابل، افغانستان
**ایمیل**: info@afghanistanhorticulture.org
**ویب**:www.afghanistanhorticulture.org
**د اړیکې شمېره**: 022 232 202 (0) 93+

پروګرام د اروپايي ټولنې لخوا تمويلېږي



**نتیجه:** د څېړنې نتیجه په دوو برخو ویشل شوې:

**اوله برخه:** د ۲۰۱۲-۲۰۱۰ کال له څېړنو څخه معلومه شوې ده چې ۱۰ ورایټي ګانې کومې چې د زردالو د ملي کلکسیون ۱۱,۱ سلنه برخه جوړوي خپل ځان پخپله ګرده افشاني کولای شي او د القاح فیصدي يې تر ۳۰ سلنه ده، یعنې ۳۰ سلنه ګلان يې په میوه بدلیږي.




د زردالو هغه ورایټی ګانی جی خپل ځان خپله القاح کوی



**دوهمه برخه:** ۸۰ ورایټي ګانې دي چې د زردالو د ملي کلکسیون ۸۸,۸ سلنه تشکیلوي خو د خپل ځان د خپله القاح فیصدي يې تر ۳۰ سلنه هم کمه ده.

**یادونه:** هغه ورایټي ګانې چې خپله د ځان د القاح توان نه لري، باید د هر ۹ ګرده اخستونکو ونو سره یوه ونه د ګرده ورکونکې په حیث کښینول شي لدې پرته میوه نه تولیدوي او که تولید يې هم کړي نو اندازه به يې ډېره کمه وي.

| لیست ورایتی های زردالو که القاح خودی نمی نمایند | | | |
|---|---|---|---|
| جوزایی | ۱۸۰ | آغاخانی | ۴۵۱ |
| جبرایلی | ۴۰۱۸ | امیری | (پانزده کلون) |
| جورس | ۸۳۲ | سرطانی | ۳۰۹ |
| سیدآبادی | ۸۲۷ | احمدخانی | ۳۲۹ |
| کورپه | ۲۴۳ | رازقی | ۳۶۳ |
| جنگلکی | ۴۶۷ | باقی خانی | ۳۲۰ |
| اکبری | ۴۶۲ | بیدمشک | ۲۴۶ |
| قیسی سفید | ۲۰۷ | قیسی سفید | ۲۰۷ |
| میراحمدی | ۴۶۵ | قندک | ۵۰۰۱ |
| سالاری سرخ | ۸۲۴ | چرخی | ۸۳۱ |
| سرخرو | ۴۰۴۱ | چهارمغزی سرده | ۲۴۸ |
| قیومی | ۴۰۷ | تیموری | ۸۲۳ |
| وزیری | ۴۰۱۷ | مرجانی | ۸۲۸ |
| سفیدک | ۴۵۴ | دومغزه | ۷۴۸ |
| حسن خیلی | ۸۲۵ | غلنگی | ۳۱۳ |
| سنجدی | ۲۴۹ | فراهی زودرس | ۷۴۶ |
| ساقی | (چهار کلون) | سلطانی | ۱۰۱۴ |
| شکرپاره | ۳۷۳ | رنگاهی | (سه کلون) |

**گرده افشاني**: د گردې انتقال د انتر څخه ستګما ته د گرده افشانۍ په نامه یادیږي، او په دوه ډوله ده:

**د خپل ځان گرده افشاني** (**self-pollination**): د گردې انتقال له یو گل څخه بل گل ته او یا هم له یوه گل څخه د بلې ونې گل ته چې د همدې له نوعې څخه وي.

**کراس گرده افشاني** (**cross-pollination**): د گردې انتقال د یوه گل له انتر څخه د بلې ورایټي د گل ستګما ته چی د همدې له نوعې څخه وي.

کله چې یو گل پوره خلاص شي، د تودوخې درجه هم مناسبه وي او گرده ورکونکی او اخستونکی دواړه موجود وي، گرده د حشراتو، باد او یا نورو عواملو پوسیله له یو گل څخه بل ته انتقال مومي، د گرده افشانۍ او القاح عملیه صورت نیسي. وروسته بیا انتقال شوې گرده د یو ټیوب پوسیله تخمدان ته انتقالیږي او هلته وده کوي چې په پایله کې د میوې د تولید باعث گرځي.



**هغه میوه جات چی د القاح مشکل لری او گرده ورکونکی ته ضرورت لری عبارت دی له:**

1. بادام
2. منه
3. زردآلو
4. ناک
5. گیلاس
6. جاپانی آلو

**د بڼوالانو د تولید د کچې لوړوالي لپاره لاندی ټکي اړین دي:**

د نړی ډیری هیوادونو کې بڼوالانو د بڼوالۍ د ښو طریقو په استفادې سره خپل د تولید کچه لوړه کړې، د بیلګې په توګه د افغانستان په پرتله ترکیه، ایران، ازبکستان او ډیری نورو هیوادونو د تولید اندازه خورا زیاته ده.

هغه لارې چې په استفادې سره یې زمونږ بڼوالان کولای شي د تولید کچه لوړه او ښه کړي عبارت دي له:

- د زردالو د تجارتي انواعو انتخاب
- د گرده ورکونکې ورایټي یا (Pollinizer variety) په نظر کې نیول
- د شاتو د مچیو استعمال

د شاتو مچۍ د هغو ورایټي گانو لپاره چې خپل ځان پخپله نه القاح کوي ډیرې اړینې دي. د یو جریب بڼ لپاره د شاتو د مچیو دوه صندوقه بسنه کوي، دغه دوه صندوقه باید هغه وخت په بڼ کې ځای پر ځای شي کله چې د ونو گلان ۱۰ فیصده خلاص شي، د صندوقونو له ایښودلو وروسته باید د حشره وژونکو درملو له استعمال څخه په کلکه ډډه وشي.

گرده افشاني د بڼوال لپاره ځکه ډیره اړینه ده چې تولیدات ډیروي، او د تولید د ډیروالي په نتیجه کې گټه هم ډیره وي.

د افغانستان د زردالو تقریبا ۹۰ فیصده ورایټي گانې گرده ورکونکو ته اړتیا لري تر څو ښه حاصل تولید کړي.





د افغانستان د بڼوالۍ پرمختیایي پروژه یا (PHDP) چې په کال ۲۰۰۷-۲۰۰۶ کې یې په فعالیت پیل او د زردالو د ملي کلکسیون په جوړښت یې په کابل او مزارشریف کې کار شروع کړ، د ښو ورایټي گانو د راټولولو په موخه یې یوه هر اړخیزه سروې هم سرته ورسوله. د یادې سروې په پایله کې معلومه شوه چې باید د هغو ورایټي گانې پر راټولولو تاکید وشي کومې چې په تجارتي لحاظ ښه کیفیت ولري او د ډیری بڼوالانو د تایید وړ وي.

بلاخره په ۲۰۰۹ زیږدیز کال کې د زردالو ملي کلکسیون په کابل او مزارشریف کې جوړ شو چې اوسمهال د زردالو ۹۲ ورایټي گانې لري

د زردالو د خپل ځان القاح کولو څیړنه په ۲۰۱۰ کال کې پیل او تر ۲۰۱۲ پورې یې دوام وکړ، ددغې څیړنې هدف په ملي کلکسیون کې د زردالو د خپل ځان القاح کونکو ورایټي گانو د خواصو او ځانګړتیاوو پیژندل وه.

لدغې څیړنې څخه ټول لاسته راوړل شوي معلومات د روزنیزو کورسونو، ورکشاپونو، مقالاتو، د ANHDO ویب پاڼې او راپورونو له لارې د بڼوالانو، قوریه دارانو، د زراعت، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت د کارکونکو او د افغانستان د نیالګیوروزونکو د ملي مؤسسی سره شریک شوي.